AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خوشحال آصفي ۲۰۱۹/۰۷/۳۰

# بې لاس او بې پښو خلک؛کروړپتي درویزګر پیژنئ؟


ښاغلی خوشحال آصفي

سوالګر او درویزګر هغه چا ته ویل کېږي،چې د خو روپیو لپاره بل انسان ته د سوال لاس اوږدوي. ځیني له مجبوریته ورته مخه کوي او د ځینو بیا پلرنی او د نیکونو دود وي، چې د خیرات په ډوډۍ ځان مړوي؛ خو اصلي پوښتنه د کروړپتي درویزګرو ده، هغه درویزګر، چې په خپله بدایه وي خو بیا هم له نورو د خیرات تمه او هیله لري. د دغو خیراتخورو په ډله کې له بده مرغه چې افغان حکومت هم راځي. سره له دې، چې افغانان د اوبو، معدني توکو، طبیعي زېرمو، قیمتي ډبرو او نورو بیلابیلو ذخیرو لري؛ بیا یې هم د خیرات کچکول نورو ته نیولی دی.

په نړۍ کې نېکمرغه هیواد هغه وي، چې د پرمختګ بنسټیز وسایل ولري او دا وسایل کاني زیرمي، په زیاته پیمانه اوبه او ځوانه بشري قوه ده،چې له نیکه مرغه افغانستان د پرمختګ دا درې اساسي وسایل لري.

د کاني زېرمو ارزښت او قیمت مو تر دېرش تریلون ډالرو اوړي، د ټول ۳۳ میلیونه نفوس ۶۰ سلنه مو ځوانه بشري قوه ده او د اوبو کچه مو دومره ډېره ده که یوازې د کونړ پر سیند د برښنا بند جوړ شي، نو د افغانستان د یوې لویې برخې برښنايي اړتیاوو ته بسنه کوي؛ همداراز که د ټولو اوبو څخه سمه ګټه پورته شي نو نه یوازې دا چې په خپله به د کورنۍ برښنا خاوندان شو، بلکې نورو هېوادونو ته د صادرولو جوګه هم شو.

افغانستان د پرمختګ ټول اساسي شرطونه لري، خو یو شی اړتیا ورته لرو هغه د کار سړی دی. مونږ د سر داسي سړی نه لرو، چې دغه تیاره مړی مو د ولس په خوله کې ورکړي او که وي هم څوک یې خدمت ته نه پرېږدي.

مونږ د تاریخ په اږدو داسي ډېر مشران پیدا کړل، چې د پرمختګ له دغو اساسي وسیلو ګټه پورته کړي، اوبه مو کنټرول کړي، کاني زیرمي مو په قانوني بڼه وسپري او له ځواني بشري قوې مو په سمه توګه د هیواد د پرمختګ لپاره ګټه پورته کړي،خو یو په بل پسي پلمي ورته برابري او رانسکور شول.

ستاسو به په یاد وي، چې د افغانستان د اوبو د زېرمو د کنټرول او اداري څېړونکي مرکز وویل "د افغانستان په سلو کې ۷۰ اوبه ګاونډیو هیوادونو ته بهېږي".
تېر کال "د نوي افغانستان د څېړنې مرکز" د خپلو فعالیتونو د پیلولو په مناسبت غونډې ته وویل، چې افغانستان یوازې له خپلو ۳۰ سلنه اوبو څخه استفاده کوي .
د دغه مرکز مشر عبدالله هیواد د افغانستان ناامنی له اوبو سره ترلي بللي او زیاته کړې یې وه، چې ځیني ګاونډي هیوادونه غواړي افغانستان ناکراره وساتي؛ څو له اوبو یې وړیا استفاده وکړي.

د دغه مرکز مشر ډېره پر ځای خبره کړې وه؛ دا یو څر ګند واقعیت دی، چې پاکستان او ایران مو په خپلو اوبو وژني. دغه دواړو هیوادونو په ځلونو د افغانستان د اوبو څخه د وړیا ګټې اخیستني په خاطر زمونږ د شته اوبو پر برښنا بندونو بریدونه کړي دي. همدا اوس هم ایران په دې هڅه کې دی، چې په فراه ولایت کې د بخش آباد بند د جوړېدو مخه ونیسي. ایران د همدې هدف لپاره په سلګونو وسله وال روزلي دي او تل همدا هڅه کوي د بخش آباد بند د جوړیدو چارې ودروي، چې تر دې وړاندې د سلما بند د جوړېدو د مخنیوي لپاره یې د دغه بند پر کارکوونکو او انجینیرانو بریدونه وکړل،خو کار یې بالاخره بشپړ شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

همداراز پاکستان هم له کلونو پخوا راهیسي په دې هڅه کې دی چې پر کونړ سیند د افغان حکومت لخوا د برښنا بند د جوړولو مخنیوی وکړي، خو د دغو ټولو ستونزو د حل لپاره حکومت اړ دی، چې د اوبو د کنټرول او مهار لپاره سالمه پالیسي جوړه او له دغه نعمته د ګټې اخیستنې لپاره شرایط برابر کړي. د حکومت مسوولیت دی، چې نور مو له خیراتي برښنا بېغمه او د خپلې کورنۍ برښنا خاوندان مو کړي؛څو نور بې لاس او بې پښو؛کروړپتي درویزګر و نه بلل شو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ